## ولی زړه ورنکړم

چي ته دومره ښایسته یی ولی زړه پرتا ورنکړم
له شاده چي هم خوږه یی پرتا ولي زړه ورنکړم
ته چي په نا ز ګوری رابدله مي د نیا شی
دا ته چي بی جوړه یی پرتا ولي زړه ورنکړم
بیاهم راته وایی ولی زړه دی پرما ورکړ
ته ډیره خوږه یی پر تا ولي زړه ورنکړم
زړه مي هیڅ نه کیږي چي له څنګه دی بیځایه شم
(مل) ته آراسته یی پرتا ولي نو زړه ورنکړم

*****

کریفلد جرمنی 2020-05-03

## ښکلي

نظر نشی صنم نن ښکلي ډیر ښکاری
په کاجل دی توری سترګي ښه سینګاری
ډیر هوس مي ستا میني ته کیږی
لتومه آشنا یی ته دی لید لاري
کرشمي دی پرما هومره اِثر کړي
چي بی تا مي نه کیږی هیڅ قراری
ستا یا ری ته ما (مل) پریکړه کړي
ومنه څما درخواست ښکلی نګاری

****

کریفلد جرمنی 2020-05-03

## بسمل کړ

جلوه دی وه دلکشه لمبي مي په زړه بل کړ
دسترګو اشاری دی زړه می وریته اوبسمل کړ
پرهیزدي څما مات کړنخری چي دی یوارکړ
مسکی مسکی کیدلي چي پورته دی وربل کړ
په مینه څیر کتل دی بنګړی چي ښورول دی
پر مخ خوری وری زلفان دی الو ول کړ

ترغیب دی په لیدو کړم مین دی په غمزو کړم
مین دی په ښکلاخپل مجنون دی داکتر «مل» کړ

******* کریفلد جرمنی 2020-05-03

## میله

په کلی کی آوازه دی ګودرکی جوړ میله دي
دبرکلی جا نا ن مي ګودرکی نن ملیمه دي
ټول ښکلی سینګارکړي پرسرګل قطارکړي
هر یو په سرو شونډو وهلی دنداسه دي
موسم د پسرلي دي ښا یسته مازدیګری دی
دلیچو دبنګړیو په ګودرکی خپور نغمه دي
له لیری می نظر «مل»په ښکلوچي راپریوت
په ټولو کي جانان مي له نورو ښا یسته دي

***** کریفلد جرمنی 2020-05-04

## لیونی یمه

که په سړیو کي مي شمیری خو سړي یمه
ما چي پر تا زړه ورکړی اوس لیوني یمه
ستا په لید و سره پرتا مي صنم مینه راغي
له یاده نشم دی ایستي څو چي ژوندي یمه
ستا د نخرو په آبا سین کی یاره ولو ید مه
که ته مي لاس په مینه واخلی بیا خوندی یمه
ځماله بغله چیری مه ځه چي مي زغم نشته دي
زه ستا د میني په انګا ر وچ سپیلنی یمه
په لیونتوب کی دی بیاهم مینه ژوندي ساتم
که دي په مینه «مل» قبول کړی بریالي یمه

**** کریفلد جرمنی 2020-05-04

## زړه وړلي

ریبار دی ما ته زیری دراتګ وه ستا راوړي
چي ځما داحوال نیووته یاره زړه دی ښه کړي
ځا ن خپل مي نیوي نشو چي له زیری شم خبر

چي لمرله کوم خوا وتـي  چي پرما یی ګران شوی
ما  هم  د راتګ  لار کـی دی ګلونه  کړله فرش
د سترګو  په انتظا ر یم  ستا  په لار  کی  دریدلي
احسان به دی هیرنکړي «مل» څوچي ژوندي دي
چی  تا  یم رابللی په خلوت  له  «مله » زړه وړلي

*****                کريفلد جرمنی  06-05- 2020

## لوریدل

تخنیږم چی مي سترګي ستا په سترګو ولګیږي
داځما سترګی لید و نه دی هیڅکله  نه  مړیږي
د ستا  په  هر ادا  سره  په   مینه  دي ډوبیږم
چي  ودی  نه  وینم  پرما  ورځ شپه نه تیریږی
ریا مي مینه  نه دي ته  ځما   دزړګي  سر یی
ځما د  میني   اور ستا   له   میني  نه  ایریږی
ما  تا ته  په  اشارو د سترګو میل خپل ښودلي
هغه به کومه ورځ وي چي پر «مل» ولوریږي

*****                کريفلد جرمنی 06-05-2020

## جدا

جدا  شمه   بی تا شمه   غمجن   اوپه  ژړا  شم
نیمګړي   مي شو   مینه    په  کلي کي رسوا شم
هاڅه چي مي ارمان وه په حضوردی هرزمان وه
ارمان  مي  پوره  نشو   محروم  ستا  له  ادا  شم
د ستا  له  سرو شونډو  خولګي  مي  نصیب نشو
شا واړول  دی  ما ته   نا هیلي  او  تنها  شم
یا دونه  به دی  سا تم  تر څو چي زه ژوندي یم
زه  «مل»  ناکام په مینه جا نا ن  ستا له جفا شم

********             کريفلد جرمنی 06-05-2020

## انـکار

انکار له اورین میني ځا ن خپل  رسوا  کول دي

د میینو په انجمن کي اعتبار د خپل بایلل دي
د میني په فرهنگ کي ځای نه لري ریا هیڅ
ریا سره چي مینه کړي خپل ځان تل رټل دي
په مینه کي چي زړونه په رضا پیوند نشي
هغه مینه نیمګړي بازاری ځان غولول دي
هغو چي په رښتیا سره هیڅ نه کوي مینه
د خلکو په تولنه کي «مل» ځان شرمول دي

*****
کریفلد جرمنی 2020-05-07

## دزلفو تال

دزلفو په تال چي دی زنګیړم خیال ستا دي
په چیغو چي ژړیږم تمنا می وصال ستا دي
شین خال ستا دتندي جانان هروخت می یادیږی
بیواکه چي شوریږم را په یاد می ادا ستا دي
نژدی نه ستا لید و ته می زړه ډیر هوسیږي
چي موم په ځیر ویلیږم لیدل د جمال ستا دي
«مل» نه دي سزاوار چي بی تا تک وتنها دي
چي ډیر ورته هوسیږم د زلفو شمال ستا دي

****
کریفلد جرمنی 2020-05-07

## په مزل شو

په یا د مي نن بیا ستا د زلفو الول شو
ستا رمنده سترګي لندی کړي تور وربل شو
هغه ما ز د یګري چي یوبل سره آ شنا شو
نظرمي ستاپه مخ په توری سترګي اوکاکل شو
خپګان نه مي سترګو په اوښکو نمجن شو
بیواکه تا پسی می سلګی مسلسل شو
وصال ته دی بی صبره نیت مي په سفرشو
په بیره «مل» ستا کلي ته روان په مزل شو

****
کریفلد جرمنی 2020-05-08

## ترخه دي

ستا پستي خبری هم له شا دو خوږه دي
هم ځما د پاریدلو محرک او انګیزه دي
ته ځما د هیلو په آسما ن کي ځلانده ستوری
نا ز ، نخری دی پا رید و ته می منبعه دي
ځما د ژوند هره شیبه ستا په مینه تړل شوی
ستا هر نا ز او نزاکت ما ته ډیر با مزه دي
ته ځما د زړه په تل کي ځای پرځای مستقر یی
هم بی تا د «مل»ژوند بی مزه او ډیر ترخه دي

****

کریفلد جرمنی 2020-05-09

## بربنډه

سپین مخ دی په پلو کله پټ کله بربنډه
په وړاندي مي دسترګو راته مه جوړوه خنده
انډول مي د میني تا سره نه اندازه کیږي
چي ودی نه وینم هغه ورځ مي وي بی خونده
دسترګو په اشارو سره رغبت می تاته وښود
د نا ز په تغا فل سره پرما دي کړ ملنده
ما ستا نوم د خپل زړه په دړه کي حک کړي
هیڅ وخت «مل» نه اچوي ستا مینه په څنده

*****

کریفلد جرمنی 2020-05-09

## په غمزو

پندی یی لاندی باندي خوځول په کرشمو
پرهیز یی ځما ما ت کړ د سترګو په غمزو
په شکو د ساحل په غاړه پروت وه بربنډه
شین سترګي طلایی زلفی دلکش د ښاپیرو
وربل یی لنډه کړي شوندي سری دلعل په رنګ
ځما سترګي چي هیڅ نه مړیدل په ډیر لیدوو
د میني راز اونیا ز یی وریده له تور چشما نو
دناز په تغافل کی «مل» هغه وه په موسکید و

*******

کریفلد جرمنی 2020-05-12

## دميني طغيان

د مینې په طغیان کی شرم وننګ له مینځه ځي
د یا ر په بیلتون کی سترګي اوښکي تویوی
په نا ز نیمرخ کتل د مین په زړه اور بلول وي
د اوښکي فواری مین له سترګو لیږدوی
د ګل دهر اغزی محنت ګل باز په مینه کاږي
هر ناز او نزاکت د خپل جانان مین مني
مل هیڅوخت په دیداردخپل صنم موړشوی نه دي
خدا یی دسرو شوندو ما «مل» عشق ته یی هڅوي

****

کریفلد جرمنی 2020-05-12

## نه ګرځوم

زړه می غواړی له تا مخ هیڅوخت ونه ګرځوم
یا بی تا هیڅکله ځان دبل صنم په دام و نه نښلوم
ته خوښیږی مي په لوړ آواز تولو ته وایم
زه د نصیب په تا ر په مینه دی ځان هیڅ نه ترړم
که ته منی که نه منی ستا یا دونه یاد کی سا تم
زه هم ستا له رویته ځان هیڅوخت نه پټوم
زه یم ځلمي ته هم یی پیغله سزاوار د مینې
زه «مل» په مینه دي په مال ثروت سرنه خوړوم

*****

کریفلد جرمنی 2020-05-12

## ګامونه

هغه ورځ دی یادیږي چي ما لاره دی څارل
ګودر ته چی ته تللی ما ګامونه دی شمیرل
په زړونو مو د دواړو د مینې لمبی بل وو
یوبل ته مو په مینه دزدانه پټ پټ کتل
له ځا ن او ماحوله سره دواړه بیګا نه وو
چي سترګي یو د بل سره په مینه ولویدل
باور دی ځما په مینه تاته هغه وخت پیدا شو
ما «مل» چي ستا نازونه په لیمو خپل اخیستل

****** کریفلد جرمنی 2020-05-13

## میلمنه

لیلی می میلمنه دی په زړه مي غلبله دي
دمیني خوږ قصي دی دنوی ژوند وعده دي
خلوت کی سره دواړه نژدی غاړه پر غاړه
دمینی سا زوسوز کی پرعشق مو مرکه دي
بی قید اوشرط ددواړومومینی ته زړه کیږي
هد ف ته رسید و مو د دواړو تلوسه دي
له تا بیلتون نه غواړم په ځنګ کی دی پا یم
د تا سره په مینه د«مل» د ژوند مزه دي

******* کریفلد جرمنی 2020-05-15

## شراره

د مینی شراره ستا له سترګو را وریږي
د مینی مي نږی په لید و دی بل رنګ کیږي
دستا رمنده سترګی اودانار په رنګ رخسا ر
بیواکه می صورت په ادا دی را پاریږی
لیده کاته د ستا وړاندیز د دلبری دي
له شونډودی خولګی اخیستوته می زړه کیږي
له سترګو مي چي کله پناه کیږی خپه کیږم
بیواکه ځما سترګي له بیلتون نه دی ژړیږي

****** کریفلد جرمنی 2020-05-15

## انتظار

زړه مي لاړ بی اختیا ر شو ستا په مینه ګرفتار شو
ستا لید و ته مي سترګی صبح وشام په انتظار شو
له استغنا دی شم بسمل نه می زغم نه تحمل
عا دی ژوند له ما نه هیر رانه ورکه سمه لارشو
ستا د میني لمبه تول صورت با ر با ر سوځی
له هغي ورځی چي مي زړه ستا دمیني په انکار شو

له تا زړه صبرول پایلي نه لری مي پریکړه
برخه لیک می ناځرګند د ځړتونو په ابحار شو

******

کریفلد جرمنی 2020-05-16

## همدومره

خپګان مي همدومره بس دی چي مي اوښکی نه وچیږي
د کلي خلک خبر دي چي پر ما څه تیریږي
د میني په فرهنګ کي زړه بایلل خو ګناه نه دي
دا ستا دا کا ني زړه پرما ولي نه نرمیږي
دا ځما په ځورید و سره ستا ګټه به څه وي
چي ستا جفا د لاسه د زړه غوښی مي ویلیږي
بیا هم ستا د لا سه نه کوم چا ته ګیلي
په مینه دي «مل» پا یی که څه هم چي «مل» ځوریږي

****

کریفلد جرمنی 2020-05-16

## دسترګو تقابل

پرون مي غلي غلي ستا سترګو ته کتل
د تا سره د میني خپل معیار مي سنجول
ته خپله دحسن د غرور په نیلي سپور وی
ما ستا په رمنده سترګي سترګی اچول
چی کله مو سترګی مخا مخ سره کیدل
په شوند و دی مسکا له ورایه توکیدل
هغه ورځ ځما د«مل» په ژوندکي حسابیږی
پر ما چي ستا نظر یا ر په مینه ولویدل

********

کریفلد جرمنی «2020-05-20»

## معلوم شو

دابنه شو چي مي مینه آشنا تاته در معلوم شو
چي ځما بی توله مینه په مضمون تاته مفهوم شو
سینه کي مي ستا د با نو غشی په مینه ګذارونه
له هغي شیبي مي مینه تا سره آشنا ملزوم شو
د ستا د اورین میني په مجمر کي ولوید لي

چي کله ستا ادا ځما په ذهن کي مرقوم شو
دا ښه شو درقیب چي له لمسونه ته فارغ شوی
پر«مل» چي دی باور شو شکونه دی معدوم شو

**** کریفلد جرمنی 2020-06-21

## سلسلي

بی تا مي د سلګیو سلسلي نه دریږي
په زړه مي ستا د میني ولولي نه کمیږي
ستا مینه مي زړه کي آشنا مینه را کړلي
له سترګومي بیلتون کي دی اوښکی نه وچیږي
په چیغو چیغو ژاړم چي مي هرکله رایاد شي
په مینه ستا د سترګو غمزي مي نه هیریږي
په حسرت ستا دوصال«مل»له ځانه پردی شوی
په لاره د کودرکي ستا نخری مي تل یادیږي

***** کریفلد جرمنی 2020-05-22

## اختروه

درخواست چي دیاري مي له تا وکړ مازدیګر وه
کودرکی چي مو ولید لمر ولاړ د غره پر سر وه
د ا سما ن لمن وه سری چي افق وه اور اخیستي
چمن کي د مرغا نو شورما شور په لراوبروه
نسیم د پسرلي هسی نرم نرم چلید له
هغه شیبه پر ما په لید و دی لوی اختر وه
تر څو چي یم ژوندي هغه یا د ونه یادوم
ستا ادا ګاني چي په غاړه د کودر وه

******* کریفلد جرمنی 2020-05-22

## راضی شی

خدای دی ځما په مینه تا رسوا کړي چي راضي شي
جفا ځنی لاس واخلي ما سره له زړه آ شتي شي
پرما چي دی څه کړي ها بخښم تول هیرومه
په مینه که ته ما سره تلپا تي دایمي شي

له واکه زړه وتلي له تا نشم تیرید لي
قبول که ځما مینه ستا له خوا په خوشحا لي شي
هغه وخت«مل» خوشحا ل اوپه جاموکي ځای به نشي
چي ځما درخواست دتا له خوا چیری که حتمی شي

****
کريفلد جرمنی 2020-05-23

## اشاری

ها وختونه چي ګودرکي د تنکو پیغلو میلي وه
په نیکریزو سره لاسونه سینګارکړي شونډی سری وه
عا شقا ن د ګودر لاره په د قت سره څارله
په انتظار د خیل زړه وړلي په کمین په هر شیبي وه
خوږ نسیم له هري خوا په ګلبوتو چلید له
په چمن کي د مرغا نو خوږ نغمي او ترانی وه
لاړه تیر هغه دوران شو زما د«مل» پا تي ارمان شو
را به نشي هغه وختونه چي په سترګو اشاري وه

*****
کريفلد جرمنی 2020-05-23

## ستومان

څوک اوښکی تویوي څوک خوښ او خندان دي
څوک ژاړي په بیلتون دمين څیری ګریوان دي
څوک ډکي پیما نی تشوي په میکده کي
څوک ناست په انتظار دخپل صنم دتور چشمان دي
د ژوند اصلي مفهوم ګوره مینه او محبت دي
لیده کا ته د یار د هر مين د زړه ارمان دي
یوځل چي څوک د میني په دام کي «مل» بند شي
هغه دخپل جانان تررسید و په مزل ستومان دي

********
کريفلد جرمنی 2020-05-23

## مزلونه

که مینه دومره آسان واي فرهاد نه کیندل غرونه
یا آدم خان نه غږول د ربا ب خپل تارونه

قصي   او   افسانې   د جلاد خان به پا تې نه واي
يا  نه   ويل مينو   معشوقو  ته  د مينې شعرونه
يا  نه   به  ښارل مينا نو  د آشنا  د راتګ  لاره
په اوښكو  د  مينو   به   نه  لمدیده  ګریوانونه
رېښتيا  مينه آسان نه دي داغزو پر سر  مزل دي
ما «مل»  د  خپل  آشنا  ترکلي  کړې  مزلونه

*****

کریفلد جرمنی 23-05-2020

## تینګولي

تندي دی ګنځه مه نيسه  چې  نشم  زغملي
له ما چې  مرور شې ځا ن خوښ نشم ساتلي
ماستا شونډی چې هروخت په خدا لیدلي دي
نوستا مسکا د شونډ و زه  هيڅ  نشم هیرولي
زه تا چې  خپه  وینم  تشويش  مې  زياتيږي
خپګان دی  آ شنا   زه   نشم  هيکله  لیدلي
کا ته ځما تا ته  په اعتيا د د«مل» اوغوښتي
چې  کله  دی  ونه  وینم  ځا ن  نشم تینګولي

*****

کریفلد جرمنی 28-05-2020

## ياري

اخر   به  لیونې   شم  له  رقيبه   چې  ته  اورې
چې   ځما   د   پاکې   مینې  له مسیره ځنې اوړې
ځما  په  اورین  مینه  ځا تنه   ولې   نه  پوهيږې
با ور په رقيب  مکړه  ای  جا نانه که هوښيار یې
زه  دومره   چې په مینه اوپه اخلاص درته ګوروم
کمې  مې  نه  دي کړي  تاته نو لمه ما څه غواړې
ځما   د  «مل»  په  شا ن  بل مين  به پیدا نکړې
په  مینه  مې رضا  شه آشنا چيرې که مې  ياري

****

کریفلد جرمنی  30-05-2020

## مسته په خندا

هغه د خپل جمال له غروره بې پروا وه
د نا ز په تغا فل په شکا ر د زړه ځما وه
هغې ښه پوهیده چې ما زړه پرې ورکړی
نو ځما دزړه وړو په نیت په ناز او ادا وه
له سترګو یې د مینې شراری را وریدې له
چې کله په نا څا په نظر یې ځما پخوا وه
له ما «مل» زړه وړې ناز یې اخلم په لیمو
چې ما ته کله وکتل مسته په خندا وه

**** کریفلد جرمنی 2020-05-30

## دمینې لومه

د ستا د مینې لومه کې یم تینګه را ا نغښتې
تقوا را څخه هیره هم له شرمه یم اغوښتې
د خلکو سپک او سپوره مې پر ځا ن خپل منلې
د ستا نا ز او ادا مې په لیمو خپل اخیستې
ته ما ته لکه ګل یې بې جوړه له نورو ګلو
نن ډیره ښکلې ښکارې تورکمیس چې دې اغوستې
بې غیر ستا له مینې نه لرې «مل» دلګرمې بل
نظر چې مې د ستا په تورو سترګو را پریوتې

****** کریفلد جرمنی 2020-05-31

## اوسیدي

په خیال مې نن له نورو ورځو ډیر ګرځیدي
هرخوا چې مې کتله ته را هیڅ نه ښکاریدي
چون ته مې ډیر خوښیږې ما څو ځلې در ویلي
بې تا سختې ورځې مې بیلتون کې تیریدي
انځور دې ځما د ذهن په هنداره ولویدل
ځما له ذهنه هیڅکله ته هم نه هیریدي
ته ځما دزړه په بڼ کې هغه خوښ شوی ګل یې
ای کاش چې د«مل»په څنګ هروخت اوسیدي

******* کریفلد جرمنی 2020-06-01

## سوځېږي

چي سترګو ته دی ګوروم ستا سترګي مي خوښېږي
د ميني رازو نيا ز ستا له سترګو را ورېږي
په شونډو دی خندا چي کله را ښکاره شي
بوسی ته ستا له شونډ و ډېر مي هوسېږي
ستا ميني سره اوس زه يم پوره معتا د شوي
چي ودی نه وينمه ورځ پر ما سخت تيرېږي
هر څه نه که شم تير خو له تا هيڅ نه تيرېږم
دا ځکه چي بی تا د«مل» صورت تول سوځېږي

*******

کريفلد جرمنی 2020-06-01

## مزه کوي

مينه تا سره تل څنګ په څنګ مزه کوي
پا سته تلتک د پا سه په پالنګ مزه کوي
با لښت پر سر خوږي مرکي داورين ميني
يوبل سره نژدي د سترګو جنګ مزه کوي
يا دونه د ميني ځما او ستا دلمړي ورځی
دستا له خولي هغه قصی هررنګ مزه کوي
هيڅکله له ديداره د ی«مل» نه مړېږي
د ستا نازو ادا بی درنګ مزه کوي

******

کريفلد جرمنی 2020-06-02

## ونه کتل

چي هغه مي خوښيد له ما ته ونه کتل هيڅ
درخواست چي مي دميني ورکړ ونه منل هيڅ
د ښکلو هغه اميره ډير مغرور او بی پروا
ځما يوه سلام ته هم وعليک ونه ويل هيڅ
ځما سوي نظر ته هغه هيڅ نظر ونکړ
د هغي د کا نی زړه پرما ونه رحميد ل هيڅ
شا واړول ما ته په نخرو مي له مخ تير شو
آرمان مي په زړه پريښودل مخ ونه ښول هيڅ

******

کريفلد جرمنی 2020-06-02

## دمیني احساس

احسا س د خپلې میني په غزل درته لیکم
د میني خپل لیکونه مسلسل درته لیکم
په مخ دي له حیا په خولو کي لمدیږم
اسرار د خپلې میني له زړه تل درته لیکم
ته هم څه مهربان شه چې ګونګي په مخ دی نشم
د زړه خپل تمنا په خپل ایمل درته لیکم
د ستا د شهلا سترګي ادا هیڅ مي نه هیریږي
زه «مل» هغه یادونه مکمل درته لیکم

*******

کریفلد جرمنی 2020-06-04

## نه بدلوم

ستا مینه بل ښکلی سره نه بدلوم
بی تا د بل صنم په مخ هنداره نه اچوم
په مینه دی کمی ځما له خوا هیڅکله نشي
بی تا د بل صنم انځور په جیب نه ګرځوم
ته ځما دزړه په تل کي له پخوا ځای پر ځای یی
بی تا د زړه په تل کي چا ته ځای نه ورکوم
هیڅکله به وا نوری چي دبل صنم هوس کړم
ستا مینه له خپل ذهنه هیڅوخت نه غورځوم

****

کریفلد جرمنی 2020-06-05

## خولګی

راځه چي له سرو شونډو دی واخلم خولګی
دا ځکه چي ته ځما یی خوښه شوی ناوکی
هغه وخت مي را یاد شوچي په مخه می راغلي
ستا لارچي ګودرمی کي را څا رل مازدیګری
بیواکه په خندا سره زړه دی رانه ویوړ
په زړه مي اور د بل کړ شم له عقله پردی
په عمر باور نشته چي بیا ونکړي آرمان
نسیم ښه چلیږي یخ هوا د پسرلی

**** کریفلد جرمنی 2020-06-05

## دزړه خواله

ځما عذر و زاری یو ورځ به دی په یاد شي
جفا نه پیښیما ن د خپل کړو په انتقاد شي
ها ما چي د میني درخواست له تا وکړ
چي تا ونه منله په آرما ن دهغه میعاد شي
پیدا به مي نکړي له خپل کړو نه ناراضه
په چیغو به وژاړي په عشق کی نامرادشي
ها ځما زیار وزحمت چي ستا نا ز مي اخیستل
(مل) تل به رایاد کړي په ژوند به خپل برباد شي

******* کریفلد جرمنی 2020-06-05

## افسانـي

ځما ژړا ستا خندا به افسا ني پا تي شی
په لر اوبر کي مو د میني هنګامي پاتـي شي
تا چي په ناز او استغنا سره بسمل دی کړمه
دعا شقا نو په محضرکی یو بلګیی پاتي شي
ها ستا د کانی زړه پرما به کله نرمه شي
دا سي تکل په مهرویانو کی تودي پاتـي شي
یا چي مو دواړه په مینه رضا شو سره
ځما اوستا درضایت به تول قصي پاتـي شي

**** کریفلد جرمنی 2020-06-06

## نه ځم

له دی کلی نه ، نه ځم ځکه ته دلته اوسیږي
له مخي می ګودرته په دي لاره چي تیریږي
همدا راته خوښی دی چي له لیری دي وینم
ګودر پرسر ما ته ما زدیګر چي معلومیږي
نور نشمه بی تا جدا یی زیا ت زغملی
له یاد ه می ته هم یو شیبه هیڅ نه هیریږی

ځما اوستا دمیني کیسه اوس خوله په خوله کرځی
(مل) هم پرتا ویاړي چیری ته که پوهیږی

*******

کریفلد جرمنی 2020-06-06

## اختر شو

حیا را ښخه لاړه چې پرتا مي نظر شو
زړه ځما ستا د میني د اور په مجمر شو
په زړه مي ستا د میني انګیزي ویا ریدله
له خولي مي بیواکه فریاد ونه سر په سر شو
د یوه ستا د میني می دزړه په تل کي بل شو
چی کله ځما جونګړی په لور ستا صنم ګذرشو
ما نه انګیرله چي پر «مل» دی زړه نرمیږي
د ستا چي په لید و سره نن ورځ پرما اختر شو

*******

کریفلد جرمنی 2020-06-06

## لیونی دی یمه

ځیرګوره ما ته آشنا چي لیوني دي یمه
دعا شقا نو په مینځ کي یواځنی دی یمه
خیا ل چي مي نه سا تي ډیر ناقرا ریمه
ستا د جفا په سورانګار کی سپیلني دی یمه
ما په دیوان د خپلي میني تاته غزل لیکلي
ستا د ښا یست په توصیف اولني دی یمه
پر «مل» چي څه تیریږی تاته معلوم نه دي
ګیلي له تا نه کوم په خوشحالي دی یمه

****

کریفلد جرمنی 2020-06-07

## همیشه

له یاده دی ا یستی نشم ما ویلِي همیشه
د تا په شا ن په ښاراوکلي هیڅ نشته جوړه
تورسترګی دی محجوب رمنده لکه هوسي
لید وته دی مي کړي هروخت ډیر تلوسه
ګودر په لاره تل مي ستا لاره څارلی

په هرقدم ترکوره دی ما کړي بدرقه
وربل ته دی له بڼه مي راوړي دي ګلونه
ما «مل» له ډیر نژدی نه د تا کړي نظاره

******** کریفلد جرمنی 2020-06-07

## کوچیه

په تور کیږدي سپینه کو چیه
رمنده سترګي دی هوسیه
ما چي له لیری ولید لي
له ما دی ویوړ زړه بدریه
لیچي دی ډک په سره بنګړیو
ایستله شرنګ دی نا وکیه
لاسونه سری دی په نکریزو
وخانده «مل» ته ګل غوټیه

***** کریفلد جرمنی 2020-06-07

## بوسي که

راشه په وصال سره مي لیري تلوسي که
کینینه مي په څنګ کي داورین مینی کیسي که
وځیره کوسي دی توری زلفی دی خوری که
ځیر په مینه وګوره سترګي مي مړي که
ها چي په بیلتون کي دي پرما څه تیر شوی دي
راشه اوس د هجر رانه لیری اند یښني که
کیږده ګرمي شوندی دي ځما په یخو شونډو
وباسه آرمان د«مل» له شونډو مي بوسي که

***** کریفلد جرمنی 2020-06-09

## یادونه

د بیلتون هره شیبه پر مین هسي ترخي دي
ددیدارپه حسرت کي په ژړا مي سترګي سري دي

نه ویلي دزړه راز شي نه یی صبر په قرار شي
د دلبر له تغافله وخت ناوخته ډیر ګیلي دي
دبا نو غشو په سوکه لری سینه کی فرهارونه
د وصال پسی بیا هم یی ډیر بیحده تلوسي دي
له خاطر یی خپل آشنا هیحکله هیڅ نه هیریږي
په یادو کي دآشنا هر خاطریی ډیر خوږي دي

******* کریفلد جرمنی 2020-06-09

**په درنا وی 2024-12-14**